# دزَوَال وجې

11-August-2022



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

په 11 اګست کال 2022ء د پاکستان په هفته واره اجتماع کښې کيدونکے بيان

# د زَوَال وجې

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ---  په قومونو زَوَال ولې راځي---؟
- --- د يَمن والا په سيلاب کښې ولې ګير شول؟
- ---پاکستان ولې جوړ کړے شو---؟؟
- ---د نيکئ د دعوت پريښودو نقصانونه
- ---د ايمان حقيقت څه دے؟

## پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنٹر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله　　وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله　　وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ شريف فضيلت

صحابئ رسول حضرت ابو طلحٰه انصاري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د يو ځلې واقعه ده چې د سحر په وخت د الله پاک د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نور نه په ډک مخ د خوشحالئ آثار وو، چې صحابهٔ کرامو عليهمُ الرّضوَان د دې وجه اوپوښتله نو اوئې فرمائيل: الله پاک پيغام راليږلے دے چې: اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستا کوم اُمَّتي چې په تاسو باندې يو ځل درود شريف اولولي، زه به د هغه د پاره 10 نيکئ ليکم، د هغه 10 ګناهونه به ورانووم، 10 درجې به ورله اوچتووم او دومره به پرې رحمت ليږم-[1]

اُن پر دُرود جن کو کَسِ بے کَساں کہیں　|　اُن پر سَلام جن کو خَبَر بے خَبَر کی ہے[2]

**وضاحت:** هغه خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چاته چې د بے وسو ملاتړ وئيلے شي، هغوئي د هر بے خبره خبر ساتونکے دې، په هغوئي دې درود او سلام وي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...مُسْنَدِ اَحْمد، جلد:5، صفحه:509، حديث:16352-

2...حدائقِ بخشش، صفحه:209-

# د بيان اوريدلو نيتونه

په حديث شريف کښې دي: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نيت بنده جنت ته بوځي-[1]

اے عاشقانِ رَسُول! د ښه ښه نيتونو سره د عمل ثواب زياتيږي- راځئ! د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا د پاره به پوره بيان اورم. ❀ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به بااَدبه کښينم ❀ ښه په توجو به بيان اورم ❀ څه چې واورم د هغې به د يادولو، ښخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسَولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دې دنيا ته په زرګونو قومونه راغلل، د ترقئ او عروج بام ته اوختل خو بيا په هغوئي زوال راغلے او بيا هغه د تَنَزُّلئ ژورې کندې ته اوغورځيدل، آخر د ترقئ نه پس کميدل، د عروج نه پس زوال، د کاميابئ نه پس ناکامي ولې راځي؟ قومونه د ترقئ بام ته د ختلو نه پس د کميدو ښکار ولې شي؟ نن به مونږ د قرآن او حديث په رنړا کښې د دې ځينو وجو نه د ځان خبرولو کوشش کوو چې دغه شان مونږه د دې نه څه زده کړو او خپل ځانونه د داسې کارونو نه بچ کړو کوم چې د زوال وجې جوړيږي، الله پاک دې مونږ ته په دنيا او آخرت کښې کاميابي او د نعمتونو هميش والے نصيب کړي، او د نعمت د زوال مو دې بچ کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1...مسند فِرْدَوس، جلد:4، صفحه:305، حديث:6895-



www.dawateislami.net

## په قومونو زوال ولې راځي---؟

په 13 سيپاره، سورۀ رَعد، 11 نمبر آيت کښې اللّٰه پاک ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ اللّٰهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْؕ (پارہ13،سورۂ رعد:11) | ترجمۀ کنزُ الايمان: بے شکه اللّٰه پاک د يو قوم نه خپل نعمت نه بدلوي تر څو چې هغوئي خپل حالت پخپله بدل نه کړي. |

په تفسيرِ صراطُ الجنان کښې دي: په دې آيت کښې د قدرت يو قانون بيان کړے شوے دے چې اللّٰه پاک تر هغه وخته پورې د قوم نه خپل عطا کړے شوے نعمت واپس نه اخلي، تر څو چې هغه قوم پخپله خپل ښه عملونه په بدو عملونو کښې بدل نه کړي۔ [(1)]

د دې آيت مبارک نه معلومه شوه چې اللّٰه پاک چې کله يو قوم له نعمتونه ورکوي، هغوئي ته په دنيا کښې ترقي، عروج، عزت او خوشحالي، امن او سلامتيا ورکوي نو د هغوئي نه بغير د څه وجې نه دغه نعمتونه واپس نه اخلي تر څو چې قوم پخپله خپل حالت بدل نه کړي، کله چې قوم خراب شي ❀ د ښه عملونو په ځائے بد عملونه کوي ❀ د ښه صفتونو په ځائے بد صفتونه خپل کړي ❀ د محنت په وجه د سستئ ښکار شي ❀ د فرض پوره کولو په ځائے د بے پرواهئ نه کار واخلي ❀ د تقویٰ په ځائے د ګناه لاره خپله کړي ❀ د شکر ويستو په ځائے نا شُکري کوي نو د قومونو عزّت په ذِلّت کښې، خوشحالي په تنګ حالئ کښې، عروج په کمي کښې، ترقي په زوال کښې او کاميابي په

---

1...تفسير صراط الجنان، پاره:13، سورۀ رعد، تحت الآية:11، جلد:5، صفحه:85۔

ناکامۍ کښې بدله کړے شي۔

## د قومونو د زَوال تاريخ

د دُنیا تاریخ راواخلئ او اوئې گورئ! د قُدرت هم دغه یو نه بدلیدونکے قانون دے، په دې زمکه په زرگونو قومونه راغلل، هغوئي له ترقي، عروج، عزّت، خوشحالي او د امن او سلامتیا نعمتونه ورکړے شو، خو کله چې هغوئي د نعمتونو قدر اونکړو نو هغوئي ئې د عبرت نخښه جوړه کړه۔

**قومِ عاد:** دوئي ته طاقت ورکړے شو، مال او دولت ورکړے شو خو دوئي نافرماني اوکړه، د نعمتونو قدر ئې اونکړو نو قَهَار رَبّ جَلَّ جَلَالُهٗ په هغوئي د زول عذاب راولیږو او دوئي د عبرت نخښه جوړه کړے شوه۔ [1]

**قومِ ثمود:** د ودانو د جوړولو د فن پوهه قوم وو: اللّٰه پاک دوئي ته نعمتونه عطا کړه، مال او دولت ئې ورکړو، په دنیا کښې ئې ورته عزت ورکړو خو دوئي سرکشه شول، نا شکره جوړ شو، قُدرت په سخته زلزله دوئي تباه او برباد کړه۔ [2]

**شَدَّاد، نمرود، فِرعَون:** دوئي ته تاج او تخت ورکړے شو، حکومت او سلطنت ورکړے شو خو دې بد بختو د نعمت قدر اونکړو، بنده گان وو خو بنده گان جوړ نه شو، د خدائيئ دعویٰ ئې اوکړه، بیا د قَهَار رَبّ جَلَّ جَلَالُهٗ عضب په دوئي نازِل شو او دا تباه او برباد شول۔

---

1...سیرت الانبیاء، صفحه:223 خلاصةً۔

2...تفسیر صراط الجنان، جلد:3، صفحه:359 خلاصةً۔



www.dawateislami.net

**بني اسرائیل:** دوئي د فرعون نه آزاد کړے شو، د مِصر مُلک حکومت ورته ورکړے شو خو دوئي قدر اونکړو، نا شکره جوړ شو، اللّٰه پاک په دوئي ذِلّت مُسَلَّط کړو۔

غرض: تر څو چې قوم خپل حالت بدل نکړي، اللّٰه پاک ئې د نعمتونو نه نه محرومه کوي، کله چې قوم خپل حالت بدل کړي، د نیکئ په ځائے بدي خپله کړي، د شکر په ځائے نا شکري کوي، د فرمانبردارئ په ځائے نافرماني کوي نو د اللّٰه پاک قهر پرې نازِل شي، بیا دوئي ته هیڅ مهلت نه ورکړے کیږي، دوئي د عبرت نخښه جوړه کړے شي۔

## ترقي او عروج وراثتي نعمت نه دے

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دې آیت مبارک نه دا هم معلومه شوه چې عروج او ترقي څه وراثتي څیز نه دے، داسې نه ده چې فلانکے قوم به همیشه صرف ترقي کوي او فلانکے قوم به همیشه شاته پاتې وي، نه---!! داسې هیڅکله نه ده، ترقي، عروج، کامیابي، عزّت، شان او شوکت، د دې ټولو نعمتونو تعلق د نسب، نوم، پیسې او رنګ سره نه دے بلکه د ترقئ او عروج تعلق د اعلیٰ کردار سره دے۔ د قرآنِ کریم مشهور مُفسر، حکیم الاُمَّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: که قومونه واړه وي او که غټ، تر دې پورې چې د نبي (عَلَیۡہِ السَّلَام) وطن وال، هم نسب بلکه د انبیا (عَلَیۡہِ السَّلَام) خپلوان، تر دې پورې چې د انبیا (عَلَیۡہِ السَّلَام) اولاد چې څوک هم د اللّٰه پاک د نعمت قدر اونکړي او نا شکري کوي د هغوئي نه به نعمت بیرته اخستے شي۔[1]

---

1...تفسیر نعیمی، پارہ:10، سورۂ انفال، تحت الآیۃ:53، جلد:10، صفحہ:54۔

## د مکې کافران د بدر په ميدان کښې ولې ذليله شول---؟

اوګورئ! د مکې والا عموماً د حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام اولاد وو، الله پاک دوئي له نعمتونه ورکړل، دوئي ته د خانه کعبې د خِدمت موقع ورکړے شوه، مکه مکرمه چرته چې به نه څه ميوه، نه سبزي او نه غَله وغيره کيدله، په دغه ښار کښې ئې هغوئي ته هر قسمه ميوې او غله ورکړه، د هغوئي د پاره د تجارت لارې هوارې کړے شوې، د دنيا په لويو لويو ملکونو کښې به مکې والوؤ ته په درنه سترګه کتلے کيدل خو دوئي د نعمت قدر اونکړو، د دنيا د ټولو نه لوئي د تَوحِيد نخښه يعني کعبه شريفه ئې د شِرک ځائے جوړ کړو، د الله پاک د محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه ئې انکار اوکړو، د الله پاک د آيتونو نه ئې مخ واړولو، په اهلِ حق (يعني په صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان) ئې ډير ظلمونه اوکړه، بيا نتيجه هغه راغله، د بدر په ميدان کښې د مکې د کافِرانو غرور د خاورو سره خاورې کړے شو او دوئي د داسې شکست سره مخ شو چې د عبرت نخښه ترې جوړه شوه- آخر دا ولې اوشو؟ د الله پاک د نبي حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام سره نسبي تعلق لرونکي، د کعبې معظمې خدمت ګاران آخر ولې د شکست سره مخ شو؟ الله پاک فرمائي:

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ لَمْ يَكُ مُغَيِّرًا نِّعْمَةً اَنْعَمَهَا عَلٰى قَوْمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ ۙ

(پارہ10،سورۂ انفال:53)

ترجمهٔ کنزُ الايمان: دا ځکه چې الله يو قوم ته کوم نعمت چې هغوئي ته ورکړے وو نه بدلوي تر څو چې هغوئي پخپله بدل نشي.

## د يَمن والا په سيلاب کښې ولې ګير شول؟

سَبَا د عربو يوه قبيله وه، دا خلق د الله پاک د نبي حضرت هُود عَلَیۡہِ السَّلَام په اولاد کښې وو، د يَمن په يو کلي کښې اوسيدل، الله پاک دوئي ته بے مثاله نعمتونه ورکړي وو، د دوئي د کلي اوبه او هوا داسې صفا او پاکه وه چې په دغه کلي کښې نه ماشي وو، نه ماران لړمانان، نه مچۍ، نه کټمل، موسم ئې ډير ښکلے وو، نه زياته ګرمي وه، نه زياته يخني، زمکه ئې ډيره زرخيزه وه، د دوئي باغونه به د ميوؤ نه ډک وو، تر دې پورې چې يو ګس به په سر تشه شکرۍ کيښوده او په باغ کښې به تللو نو د هغه شکرۍ به د قِسما قِسم ميوؤ نه ډکه شوه، هغه ته به د ميوؤ راشوکولو ضرورت هم نه پيښيدو، دومره ډيره ميوه به کيدله، غرض دې قوم ډير خوشحاله، د امن او سکون او آرام ژوند تيرولو خو دوئي سرکشي اوکړه، الله پاک دغه کلي ته 13 انبيائے کرام عَلَیۡہِمُ السَّلَام راوليږل، دغه سرګشو د انبيائے کرامو عَلَیۡہِمُ السَّلَام نه انکار اوکړو، غرور ئې اوکړو، په کُفر کلک اودريدل، ضِديان شول، د انبيائے کرامو عَلَیۡہِمُ السَّلَام بے ادبي او ګستاخي (يعني سپکاوے) ئې اوکړو نو د قَهّار رَبّ جَلَّ جَلَالُہ قهر په دوئي نازِل شو، الله پاک په هغوئي د سيلاب عذاب راوليږو، په کوم کښې چې د دوئي باغونه، کورونه هر څه غرق شول او فنا شول-[1]

په قرآنِ کريم کښې د دې سرګشَه قوم عبرتناکه قيصه داسې بيان شوه:

| | |
|---|---|
| لَقَدۡ كَانَ لِسَبَاٍ فِیۡ مَسۡكَنِهِمۡ اٰیَةٌ ۚ جَنَّتٰنِ عَنۡ یَّمِیۡنٍ وَّ شِمَالٍ ۬ؕ كُلُوۡا مِنۡ رِّزۡقِ رَبِّكُمۡ وَ | ترجمهٔ کنزُ الايمان: بے شکه د سبا والاؤ د پاره د هغوئي په آبادئ کښې نخښې وې دوه باغونه وو يو ښي طرفته او بل ګس طرفته د |

1...عجائب القرآن مع غرائب القرآن، صفحه:201200خلاصةً-

اشْكُرُوْا لَهٗؕ بَلْدَةٌ طَیِّبَةٌ وَّ رَبٌّ غَفُوْرٌ(۱۵) فَاَعْرَضُوْا فَاَرْسَلْنَا عَلَیْهِمْ سَیْلَ الْعَرِمِ وَ بَدَّلْنٰهُمْ بِجَنَّتَیْهِمْ جَنَّتَیْنِ ذَوَاتَیْ اُكُلٍ خَمْطٍ وَّ اَثْلٍ وَّ شَیْءٍ مِّنْ سِدْرٍ قَلِیْلٍ(۱۶) ذٰلِكَ جَزَیْنٰهُمْ بِمَا كَفَرُوْاؕ وَ هَلْ نُجْزِیْۤ اِلَّا الْكَفُوْرَ(۱۷)

(پارہ22،سورۂ سبا:171615)

خپل رَبّ رِزق خورئ او د هغه شکر ادا کوئ پاک ښار دے او بخښونکے رَبّ- نو هغوئي مخ واړولو نو مونږ په هغوئي زورداره سيلاب اوليږلو او د هغوئي د باغونو په عوض کښې ئې دوه باغونه هغوئي ته بدل کښې ورکړل چې په هغې کښې ترخه ميوه او جاڅې (د غز په شان ورېې ونې) او څه لږې شان بيرې (وې)- مونږه دا بدله ورکړه د هغوئي د ناشکرئ سزا او مونږه څنګه سزا ورکوو هغوئي له څوک چې نا شکره دي.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! معلومه شوه چې د ترقئ او عروج تعلق د نوم او نسب سره نه دے، د دې د پاره دا نشي کتلے چې څوک د چا ځوي دے، د چا نمسے دے، دې ته نشي کتلے چې د چا سره زياته پيسه ده، د ترقئ او عروج د پاره کردار ته کتلے شي-

ہم تو مائل بہ کرم ہیں، کوئی سائل ہی نہیں
راہ دِکھلائیں کسے، کوئی راہ رَوِ منزل ہی نہیں
تربیتِ عام تو ہے، جوہَر قابِل ہی نہیں
جس سے تعمیر ہو آدم کی یہ وہ گِل ہی نہیں
کوئی قابِل ہو تو ہم شانِ کئی دیتے ہیں
ڈھونڈنے والوں کو دُنیا بھی نئی دیتے ہیں

د شعرونو وضاحت: د الله پاک کرم په ټولو کيږي، چې څوک لمن غوړولو والا خو وي، د هدايت، عروج او ترقئ لارې واضحه بيان کړے شوې دي، چې څوک تګ والا خو

وي، تربیت خو کولے شي، خو چې څوک تربیت اخستو والا خو وي، څوک چې قابِل وي هغوئي ته ډیر څه ورکولے شي، یعني تاج او تخت او حکومت هم ورکولے شي خو د هغې د پاره خو قابلیت هم پکار دے، چې اعلیٰ کردار خو هم وي۔

چاہتے سب ہیں کہ ہوں اَوجِ ثُریَّا پہ مقیم | پہلے پیدا تو کرے ایسا کوئی قلبِ سلیم

**وضاحت:** دا ټول غواړي چې مونږ ته ترقي میلاؤ شي، کامیابي میلاؤ شي، عروج میلاؤ شي خو د دې د پاره قلبِ سلیم پکار دے، اعلیٰ کردار پکار دے، د چا سره چې قلبِ سلیم وي، که هغه د حبشي غلام ولې نه وي، هغه د کعبې په چهت اودرولے شي او اذان پرې کولے شي او د چا سره چې قلبِ سلیم نه وي، که هغه د مکې سردار ابو لهب ولې نه وي، هغه د ذِلَّت او کمې ځنبه جوړولے شي۔ دا د قُدرت نه بدلیدونکے قانون دے۔

## مونږ او جشنِ آزادي

**اے عاشقانِ رَسُول!** په 14 اګست یعني د پاکستان 75 د آزادئ ورځ راتلونکې ده، په دې تاریخ الله پاک مونږ ته هم یو نعمت راکړو، مونږ له آزادي راکړے شوه، په بَرِّ صغیر کښې مسلمانان د کمو او زیاتو 100 کالو پورې د غلامئ په زنځیرونوو کښې تړلے شوي وو، مسلمانانو ته به د ذِلَّت په سترګو کتے شو، په دوئي به ډیر ظلم کیدو، کافِرانو به مسلمانانو ته ځاني او مالي نقصان رسولو، په هره خبره به ئې د مسلمانانو عزّت د ښپو لاندې کولو، د مُسلَے وئیلو سره به ئې په دوئي پسې مَلَندې کولې او پته نه لګي چې څنګه څنګه تکلیفونه به ئې ورکول، بیا الله پاک کرم اوکړو، عاشقانِ رسول علمائے کرامو محنت اوکړو، بیانونه ئې اوکړل، کتابونه ئې اولیکل، کور کور ته لاړل او مسلمانانو ته ئې یوه جذبه ورکړه، کوشش ئې ورکړو، د بَرِّصغیر د ګوټ ګوټ نه نعرې

شروع شوې. راځئ! مونږ هم هغه عظيم ياد تازه کوو!

د پاکستان مطلب څه دے؟ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه- څوک زمونږه راهنما؟ مُحَمَّد رَّسُولُ اللّٰه-

آخر د عاشقانِ رسول علمائے کرامو او عوامو شريکو کوششونو رنګ راوړو، د مسلمانانو مشرانو محنت پکار راغلے او الله کريم مونږ ته د **اسلاميه جمهوريه پاکستان** په شکل کښې خپل آزاد مُلک راکړو-

اوس کتل دا دي چې آيا مونږ د دې نعمت قدر کوو؟ آيا مونږ د پاکستان د جوړولو مقصدونه پوره کوو---؟؟

## پاکستان ولې جوړ کړے شو---؟

په 13 جنورئ کال 1948ء اسلاميه کالج پيښور کښې د پاکستان حاصلولو مقصد بيانولو سره بانئ پاکستان محمد علي جناح اووئيل: مونږ د پاکستان د حاصلولو غوښتنه د زمکې د يوې ټوټې د پاره نه وه کړې بلکه مونږه داسې تجربه ګاه حاصلول غوښتل، چرته چې په اسلامي اُصُولو په آزادئ سره عمل اوکړو-

په 6 مارچ، 1946ء محمد علي جناح په يو تقرير کښې اووئيل:

***Let us go back to our holy book the Quran. Let us revert to the Hadith and the great traditions of Islam which have everything in them for our guidance.***

يعني مونږ ته به خپل پاک کتاب قرآنِ مجيد طرفته ته بيرته اوړيدل وي، مونږ ته به حديث شريف او د اسلامي تعليماتو طرفته بيا مخ کول وي چې په دې کښې زمونږ د

لار ښودنې د پاره هر څه موجود دي-

اے عاشقانِ رَسُول! دا دے د پاکستان د جوړولو مقصد---!! دا مُلک د دې پاره جوړ کړے شو چې دغه شان مونږ خپل اسلامي تهذيب او کلتور په آزادئ سره خپل کړو، په قرآنِ کريم، حديث شريف او اسلامي تعليماتو په آزادئ سره عمل اوکړے شو ❁ آيا مونږ په دې پوره يو؟ ❁ آيا زمونږ چال چلن، زمونږ رنګ ډهنګ، زمونږ طور طريقې اسلامي دي؟ ❁ پاکستان په آزادئ سره د لمونځونو کولو د پاره جوړ کړے شو، آيا مونږ لمونځ کوو؟ ❁ پاکستان په آزادئ سره د روژو نيولو د پاره جوړ کړے شو، آيا مونږ د رمضان المبارک روژې نيسو؟ ❁ پاکستان په آزادئ سره د تلاوت کولو، په آزادئ سره د قرآنِ پاک په تعليماتو د عمل کولو، په آزادئ سره د سُنَّتو خپلولو د پاره جوړ کړے شو ❁ دې د پاره جوړ کړے شو چې که مونږ ګيره پريږدو نو چې څوک اعتراض اونکړي ❁ چې مونږ د سُنَّت مطابق جامې واغوندو نو څوک په مونږ ګوتې اوچتې نکړي ❁ مونږ لمونځونه کوو، عمامه (يعني پټکے) په سر کړو، په لاسونو کښې تَسبې راواخلو نو څوک په مونږ پورې ټوقې اونکړي ❁ زمونږه مئيندې خوئيندې بُرقعې واچوي، شرعي پرده اوکړي، څادر او چار ديوارئ کښې وي نو څوک ګوتې اوچتې نکړي، څوک وريسې خندا اونکړي- په انصاف سره اووائيئ! آيا مونږ دا هر څه کوو؟ ❁ آيا زمونږ په مخ باندې د سُنَّت مطابق يو موټے ګيره مبارکه شته؟ ❁ آيا مونږ د سُنَّت مطابق جامې اغوندو؟ ❁ آيا مونږ د اسلامي تهذيب او کلتور تصوير جوړ شوي يو؟ آيا زمونږه مئيندې، خوئيندې د شريعت مطابق پرده کوي؟

او چې کله يو عاشقِ رسول اسلامي طور طريقې خپلوي نو آيا هغه ته په معاشره

کېږي د عزّت په نظر کتے شي؟ یا په هغه پورې خندا کولے شي؟

## مونږ او جشنِ آزادي

آه! افسوس---!! نن 75 کاله پوره کېدونکي دي خو که شریک طور اوکتلے شي نو مونږ د پاکستان حاصلولو مقصدونه پوره نکړل، د آزادئ ورځ په اَصل کښې د شکر ادا کولو ورځ ده، الله پاک ته په عاجزئ سره د سجدې کولو او د هغه د شکر ادا کولو ورځ ده خو زمونږه په معاشره کښې د آزادئ ورځ هم د ګناهونو نه په ډک انداز کښې لمانځلے شي ❀ د جشنِ آزادئ په نوم سندرې غږولے کیږي ❀ میوزک غږولے کیږي ❀ بے هوده ګډاګانې کیږي ❀ چغې سورې وهلے کیږي ❀ پټاخې خلاصولے کیږي ❀ په بے هوده طریقې سره باجې وهلے کیږي ❀ ځلمي په کوڅو کښې او په سړکونو هنګامې (یعني شور او غوغا) کوي ❀ په سړکونو د ون ویلنګ (یعني موټر سائیکل په یو ټائر) کولو سره د مرګ سره لوبې کوي ❀ ډیر نادانه کوم چې د خپل مور پلار د بوډاتوب ځانګړے ملاتړ وي، د دې وین ویلنګ په نشه کښې د مستئ سره د مرګ خُلې ته لاړ شي ❀ شرابونه څکلے کیږي ❀ نشه ورکوونکي څیزونه د زړه د اِخلاصه استعمالولے شي۔

د مختلفو رپورټونو ترمخه پاکستان کښې د جشنِ آزادئ په موقع 7 ملینه یعني 70 لاکهه ګسان نشئي څیزونه استعمالوي (یعني نشې کوي)، یوې انتظامي ادارې اوسه پورې د 800 ملینه ډالرو نشئي څیزونه ضبط کړي (یعني ولقه کښې اخستي) دي۔ آه! افسوس---!! آیا مونږ ته پاکستان د دې د پاره میلاؤ شوے وو؟ آیا دا نعمت د دې د پاره

راکړے شوے وو؟

واۓ ناکامی متاعِ کارواں جاتا رہا | کارواں کے دِل سے اِحْساسِ زیاں جاتا رہا

**وضاحت:** آه! زمونږه ساز او سامان (مثلاً، عزّت، ترقي، کاميابي، عروج وغيره) ټول تباه او بربادیږي او مصيبت خو دا دے چې زمونږ د نادانانو سره د دې تباهئ هډو اِحسَاس نشته.

## د تباهئ بيړئ رانزدې شوې ده

ډاکټر علامه مُحَمَّد اقبال وئيلي وو:

آ تجھ کو بتاتا ہوں تاریخِ اُمَم کیا ہے | شمشیر و سِنان اَوَّل، طاؤس و رباب آخر

**مطلب دا دے** چې قومونه اوّل خوبونه ويني، د ترقئ، عروج او کاميابئ د پاره جذبې ښائي، ليونتوب وي، بام ته د ختلو او د عروج د پاره شپه او ورځ محنت کيږي، بيا الله پاک د دوئي د محنتونو صِله (يعني بدله) عطا کوي، هغوئي ته ترقي ورکړے کيږي، تر دې پورې چې قومونه بام ته په ختلو او عروج کښې تر ستورو پورې رسي، بيا يو وخت راځي چې خلق د الله پاک نعمتونه هير کړي، د غرور او تکبر نشه ئې سر ته اوخيژي، په ګناهونو، نافرمانئ، عياشئ او فضولياتو کښې د حَد نه اوړي، بيا په هغوئي باندې د الله پاک غضب نازليږي او هغوئي بيا د شاته پاتې کولو سره ژورې کندې ته غورځولے شي- د قومونو دا تاريخ دے-

یاخدا! پاک وطن کی تُو حفاظت فرما | فضل کر اس پہ سدا سایۂ رحمت فرما
اس کو تُو قَلْعَۂ اسلام بنا دے یا رب! | میرے پیارے وطنِ پاک پہ رحمت فرما
ہاۓ! بدمست گناہوں میں ہوۓ اہلِ وطن | یا خدا سب کو عطا نیک ہدایت فرما

| | |
|---|---|
| بچّہ بچّہ ہو نمازی مِرے پاکستاں کا | اور عطا جذبہ پاپندیِ سُنّت کا |
| شکر صد شکر غلامی سے ملی آزادی | پھر عنایت ہمیں کھوئی ہوئی شوکت فرما |

اے عاشقانِ رَسُول! نن که مونږ خپل جاج واخلو نو کیدے شي چې مونږ د تباهۍ په آخري غاړه ولاړ یو، زمونږه مشرانو د آزادۍ خوب لیدلے وو، په هغوئي کښې جذبه وه، شوق وو، محنت وو، بیا هغوئي محنتونه اوکړل، قربانۍ ئې ورکړې، د هغوئي محنتونو رنګ راوړو، الله پاک مونږ ته خوږ ملک پاکستان راکړو، نن د 75 کاله تیریدو وروستو زمونږه معاشره ګناهونو راګیره کړې ده، عیش پرستي، حِرص لالچ، بے ځایه فخر او غرور، د دنیا محبّت او فضولیات ډیر شوي دي، لکه تاریخ ځان تکراروي، الله پاک مونږ له عروج راکړے وو او اوس مونږ د تباهۍ په لور منډې وهو، که چرې اوس هم مونږ ځان سنبال نکړو نو یاد ساتئ! الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اِذَاۤ اَرَادَ اللّٰهُ بِقَوْمٍ سُوْٓءًا فَلَا مَرَدَّ لَهٗۚ وَ مَا لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّالٍ(۱۱) (پارہ13،سورۂ رعد:11) | ترجمۂ کنزُ العرفان: او کله چې الله د یو قوم سره د بدئ اراده کوي نو د هغه د مخنیوي د پاره هیڅوک نشته او د هغه نه سیوا د دوئي څوک ملاتړ نشته- |

معلومه شوه چې کله قومونه په عیاشۍ کښې اخته شي، د هغوئي کردار ډیر را اوغورځیږي، چې هغوئي په نافرمانو کښې د حَد نه زیات مخکښې ځي نو په هغوئي عذاب نازلیږي، هغوئي ته سزا ورکولے شي، بیا د دنیا هیڅ یو طاقت هم هغوئي د تباهۍ او بربادۍ نه نشي بچ کولے-

| | |
|---|---|
| نہ سمجھو گے تو مٹ جاؤ گے اے مسلمانو! | تمھاری داستاں تک بھی نہ ہو گی داستانوں میں |

## د اُمّتِ مُسلمه څلور اهمې ذمه وارئ

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! ډيره واضحه خبره ده چې د هر څيز يو مقصد وي، تر څو پورې چې هغه څيز خپل مقصد پوره کوي، د هغې قدر او قيمت وي، د هغې مالک د هغه څيز حفاظت هم کوي، که هغه څيز خپل مقصد پوره نکړي نو د هغه څيز قدر او قيمت نه پاتې کيږي او نه د هغې حفاظت کولے شي، يو قلم ته اوګورئ! د قلم مقصد ليکل دي، تر څو پورې چې قلم ليکل کوي، خلق هغه د سينې سره جُخت ساتي، چې کله دا ليکل پريږدي د ده د مخکښې پشان قدر او قيمت نه پاتې کيږي، نه د ده حفاظت کولے شي، نه په سينه پسې جُخت ساتلے شي-

دغه معامله ده، زمونږ د مسلمانانو هم ذمه وارئ دي، تر څو پورې چې مونږه دغه ذمه وارئ پوره کوؤ، ترقي، کاميابي او عروج به زمونږ نصيب وي، که چرې مونږ خپلې ذمه وارئ پوره کول پريږدو نو مونږ به خپل قدر او قيمت بائيلو-

زمونږه ذِمَّه وارئ څه دي؟ الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَ تَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ؕ (پاره:4،سورۂ اٰلِ عمران:110)

ترجمهٔ کنزُ الايمان: تاسو بهتره اُمَّت ئيئ په هغه ټولو اُمَّتونو کښې کوم چې په خلقو کښې ظاهر شول د نيکئ حکم کوي او د بدئ نه منع کوي او په الله ايمان ساتي.

امام فَخرُ الدَّين رازي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د آيت مبارک معنٰى دا ده چې اے مسلمانانو! په لَوحِ مَحفُوظ کښې ستاسو دغه صِفت ليکلے شوے دے چې تاسو د ټولو نه


www.dawateislami.net

بهتره او د ټولو نه افضل اُمَّت ئيئ، ستاسو د پاره لائق دا دي چې تاسو د دې منصب حفاظت اوکړئ! (1) يعني هميشه د الله پاک او د هغه د خوږ محبوب صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اطاعت کوونکي او فرمانبرداره اوسئ---!!

اے عاشقانِ رَسُول! په دې آيت مبارک کښې رَبِّ کائنات د اُمَّتِ مُسلِمه 4 اَعلیٰ صفتونه بيان کړل او دا څلور صفتونه په اَصل کښې د اُمَّتِ مُسلِمه څلور ذمه وارئ بلکه د ژوند مقصدونه دي:

## اُمَّتِ مُسلمه خيرُ الاُمم دے

حضرت علّامه مفتي عبد المصطفٰی اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آيت مبارک وضاحت کوي او فرمائي: د يو مسلمان د پاره د ژوند وړومبے مقصد خَيرُ الاُمَم يعني بهترين اُمَّت کيدل دي- لکه څنګه چې د ګلاب د پاره خوشبو، د لعل د پاره پړقا او د لمر د پاره رڼړا لازمي ده، دغه شان د يو مسلمان د پاره د خپلو عملونو او کارونو په لحاظ سره په ټولو اُمَّتونو کښې د ټولو نه اعلیٰ، د ټولو نه افضل، د ټولو نه بهتر کيدل لازمي او ضروري دي، که عبادتونه وي او که معاملې وي يا اخلاق او عادتونه غرض د ژوند په هر ډګر کښې، د ژوند د آخرو لمحو پورې مسلمان صرف خير وي، بس ټول ژوند د قرآن او سُنَّت لمن کلکې نيولو سره په صراطِ مستقيم (يعني په سيدها لاره) روان وي چې دغه شان نور قومونه د مسلمان د ليدو سره دا اووائي چې (2)

يہی وہ ہيں کہ جن کے واسطے خَتمُ الرُّسُل آئے | انہی پر ختم ہے "خَيرُ الاُمَم" کی جلوہ سامانی

1...تفسير کبير، پاره:4، سورهٔ اٰل عمران، تحت الآية:110، جلد:3، صفحه:323۔

2...عرفانی تقريريں، بيان: زوال کے اسباب، صفحه:99بتغير قليل۔

**وضاحت:** دا هغه خوش قسمته اُمَّت دے، د چا د هدايت د پاره چې الله پاک خپل د ټولو نه محبوب نبي، خاتَمُ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راوليږو، دې اُمَّت ته د **خَيْرُ الْاُمَمْ** لقب ورکړے شو۔

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دا ده د يو مسلمان اَوَّلِينَ ذِمَّه وارې چې مسلمان هميشه د **خَيْرُ الْاُمَمْ** يعني بهترين اُمَّت جوړيدو سره پاتې شي۔ يقيناً چې څوک بهترين وي، هغه آئيډيل هم وي او څوک چې آئيډيل وي، هغه د بل چا نقل نه کوي، نور خلق په هغه پسې روان وي، ځکه داسې کيدل پکار دي چې مسلمان داسې جوړ شي چې نور قومونه په دوئي پسې روان شي، د مسلمانانو اَخلاق داسې اعلٰی وي چې نور قومونه د مسلمانانو نه اخلاق زده کړي، د مسلمان کردار داسې اعلٰی وي چې نور قومونه د کردار د بهترئ د پاره د دوئي صحبت خپل کړي، د يو مسلمان عادتونه، د هغه کارونه، د هغه خبرې، طور طريقې، چال چلن داسې بهتر وي چې هغه آئيډيل جوړ کړے شي، د هغه پيروي اوکړے شي، نور قومونه د هغوئي په کردار، اخلاقو او عادتونو رشک اوکړي او د هغوئي په ليدو سره ژوند زده کړي۔

خو افسوس! نن سبا حالات اُلټا دي، **خَيْرُ الْاُمَمْ** (بهترين اُمَّت) مونږ يو، پکار خو دا وه چې مونږ د نورو د پاره آئيډيل جوړ شوے وے، مونږ نور قومونه خپل آئيډيل جوړ کړه، پکار خو دا وه چې نورو قومونو زمونږ نقل کولے خو مونږ نقليان جوړ شو، مونږ د نورو نقل شروع کړو، په چال چلن کښې د کافِرانو نقل، په تعليم کښې د کافِرانو نقل، په اُصُولو او قوانينو کښې د کافِرانو نقل، تر دې پورې چې په پيزار او جامو اخستو او په خوراک څښاک کښې هم د نورو قومونو نقل کولے شي، صَد اَفسوس! نن مسلمان قرآن نه زده کوي، د کافِرانو فلسفې زده کوي، د خپل آقا او مولا، مکي مدني مصطفٰے

صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سيرت ته نه ګوري، د کافِرانو انداز خپلوي-

شَور ہے ہو گئے دُنیا سے مسلماں نابُود | ہم یہ کہتے ہیں کہ تھے بھی کہیں مسلم موجود؟
تم ہو صُورت میں نصارٰی تو تمدن میں ہنود | یہ مسلماں ہیں جنہیں دیکھ کے شرمائیں یہود

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** زمونږ اَسلاف، مخکښيني مسلمانان هم داسې وو، هغوئي به د يو قوم نقل نه کولو، هغوئي به د خپل آقا او مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت خپلول، د قرآنِ مجيد په ښودلے شوؤ اُصُولو به روان وو، په دنيا کښې په هر لور د هغوئي خبرې وې، رَبِّ کائنات هغوئي ته ترقي ورکړې وه، هغوئي ته عروج ورکړے شوے وو، کافِرانو به په هغوئي رشک کولو، تر دې پورې چې د هغوئي د اَخلاقو او کردار نه به د متاثره کيدو سره کافِرانو کلمه وئيله-

راځئ! د دې يوه ښکلې نظاره وړاندې کووم هم په دې وجه:

## د اَخلاقو ليدو سره کافِر مسلمان شو

حضرت مالِک بن دينار رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ يو ځل يو کور په کرايه واخستو، د هغه کور سره بالکل په خوا کښې د يو يهودي کور وو- هغه يهودي به د بُغض او دښمنئ له وجې د ناوې په ذريعه سخا اوبه او ګند د هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ کور ته غورځولو، هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ به هغه ګند صفا کولو او خاموشه به پاتې کيدلو، آخِر يوه ورځ هغه يهودي پخپله راغلے او اوئې وئيل: جناب! زما د ناوې نه د راتلونکي ګند په وجه خو به ستاسو څه شکايت نه وي؟ حضرت مالِک بن دينار رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ډير په نرمئ سره اوفرمائيل: د ناوې نه چې کوم ګند راغورځيږي، هغه زه وينځم، يهودي اووئيل: تاسو له د دومره تکليف باوجود غصه نه درځي؟ اوئې فرمائيل: راځي خو څکم ئې څکه (په 4 سيپاره سورۀ اَلِ عمران 134

نمبر آيت کښې) د الله پاک فرمان مبارک دے:

| | |
|---|---|
| وَ الْكٰظِمِيْنَ الْغَيْظَ وَ الْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِؕ وَ اللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَۚ﴿۱۳۴﴾ (پارہ:4،سورۂ آلِ عمران:134) | ترجمۂ کنزُ الايمان: او غصه څکونکي او خلق معاف کوونکي او نيکان خلق د الله محبوب دي۔ |

د حضرت مالِک بن دينار رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د دې ښکلې جواب اوريدو سره هغه يهودي کلمه اووئيله او مسلمان شو۔ [1]

نګاہِ ولی میں وہ تاثیر دیکھی | بدلتی ہزاروں کی تقدیر دیکھی

اے عاشقانِ رَسُول! دا وو مخکښيني مسلمانان--!! د هغوئي د اخلاقو او کردار نه د متاثره کيدو سره به کافِرانو کلمه وئيله او نن زمونږ حال څه دے؟ زمونږ د ليدو سره به کافِران څنګه متاثره شي، چې اُلټا د اِسلام نه نفرت شروع کړي نو څه لرې نه ده۔

## د يو غير مُسلِمه عبرتناک جواب

يو غير مسلِمه مُفکر وو، هغه ته يو مسلمان اووئيل: ته داسې صاحبِ نظر ئې، عقل والا ئې، بيا ولې نه ايمان نه راوړې؟ په دې هغه غير مسلمه داسې عبرتناک جواب ورکړو چې د دې اوريدو سره به د هر غيرت مند مسلمان سر د شرم نه ټيټ شي، غير مسلمه اووئيل: چې زه هغه اسلام ته ګورم کوم چې د مسلمانانو په کتابونو کښې ليکلے شوے دے نو زما په زړه کښې د اسلام د ښتنولۍ ډيوې بلې شي، زما زړه غواړي چې دا مُقَدّس کتابونه ټول عمر په خپله سينه پورې اوساتم خو زه چې کله هغه اسلام ته

1...تذكرة الاولياء مترجم، صفحه:32۔

اوګورم په کوم چې اوسني مسلمانان عمل کوي نو زما زړه د اسلام نه بيزاره شي-[1]

بن گئے تنکے نشیمن کے قفس کی تیلیاں | بَن گیا کیا؟ ہم چلے تھے کیا بنانے کے لئے

وضاحت: کور جوړول وو، قيد خانه جوړه شوه، مونږ څه جوړول؟ او څه جوړ شول؟ مطلب دا چې مونږ د اُلټا لارې مُسافر جوړ شو، پکار خو دا وه چې مونږ د نورو د پاره د ژوند نمونه جوړ شوي وو، زمونږ په وجه اسلام ته ترقي ميلاويدلے ولې اُلټا اوشول، خلقو زمونږ په وجه د اسلام نه نفرت شروع کړو-

اے عاشقانِ رَسُول! زمونږ ذمه واري ده چې د خَيْرُ الْاُمَمْ (يعني د بهترين اُمَّت) کيدو کوم اعزاز چې مونږ له رَبِّ کائنات راکړے دے، مونږ د دې اعزاز قدر اوکړو، مونږ واقعي خَيْرُ الْاُمَمْ (يعني بهترين اُمَّت) جوړ شو، مونږ د نورو نقل نه کوو، بلکه د قرآن او سُنَّت تعليم حاصِل کړو، په دې باندې عَمَل اوکړو، مونږ د خپل آقا او مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سيرت عملي طور خپل کړو، کاش! چې مونږ د سُنَّتو ډکه نمونه جوړه شو-

یامصطفٰے! گُناہوں کی عادَتیں نکالو | جذبہ مجھے عطا ہو سنّت کی پَیروی کا[2]

## (3-2): د نيکۍ دعوت ورکول، د بدۍ نه منع کول

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د اُمَّتِ مُسلِمه دويمه او دريمه ذِمَّه واري څه ده؟ رَبِّ کريم فرمائي:

اُخۡرِجَتۡ لِلنَّاسِ تَاۡمُرُوۡنَ بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَ تَنۡهَوۡنَ | ترجمهٔ کنزُ الايمان: کوم چې په خلقو

1...عرفانی تقریریں، بیان: زوال کے اسباب، صفحہ:101 بتغیر قلیل۔

2...وسائل بخشش، صفحہ:177۔

عَنِ الْمُنْكَرِ (پاره:4، سورهٔ اٰلِ عمران:110) | کښې ظاهر شول د نيکۍ حکم کوې او د بدۍ نه منع کوې-

معلومه شوه چې د نيکۍ دعوت ورکول، د بدۍ نه منع کول دا هم د هر يو مسلمان په ذِمه وارۍ کښې شامل دي خو افسوس! نن سبا زياتره مسلمانانو د دې ذمه وارۍ نه مخ اړولے دے- يو عجيبه سوچ پته نه لګي چې د چرته نه راغلے دے، مونږ ګڼړو چې د نيکۍ دعوت ورکول، د بدۍ نه منع کول صِرف د مولوي او امام صاحب کار دے، باقي ټول دې صرف ګټې، خوري او مزې دې کوي-

اوّل خو دا ياد ساتئ! د مَولوِي معنٰی ده: الله والا- [1] که اوکتلے شي نو هر مسلمان الله والا (يعني الله پاک منونکے) دے، په مونږ کښې کيدے شي چې څوک هم څان د **شيطان منونکي** د پاره تيار نه وي- چې ټول الله والا دي نو هم ټول مَولوِي شول، آؤ! چې چا ګيره مبارکه نه ده پريښې، دا د هغه غلطي ده، ګيره نه پريښودونکے، عِلمِ دين نه زده کوونکے غبرګ مجرم دے، يو خو هغه ګيره نه ده پريښې، ضروري عِلمِ دين ئې نه دے زده کړے، بل هغه د نيکۍ دعوت هم نه ورکوي، د بدۍ نه هم نه منع کوي-

د قرآنِ مجيد مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي اَحمَد يار خان نعيمي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: ټول مسلمانان مُبلِّغين دي، په ټولو باندې فرض دي چې خلقو ته د ښه خبرو حکم کوي او د بدو خبرو نه منع کوي- [2] زمونږ خوږ آقا او مولا د مديني والا مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: بَلِّغُوۡا عَنِّیۡ وَلَوۡ اٰيَةً يعني زما د طرف نه اورسوئ که هغه يو آيت

---

1...فيضانِ علم وعلما، صفحه:11۔

2...تفسير نعيمی، پاره:4، سورهٔ اٰل عمران، تحت الآية:104، جلد:4، صفحه:79۔

ولې نه وي۔ [1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږ لږ غور اوکړو! چې مونږ ته د دين څومره خبرې يادې دي، آيا هغه مونږ نورو ته رسوو؟ څوک په دې نه پوهيږي چې پينځه لمونځونه فرض دي؟ آيا مونږ نورو ته د لمونځ کولو دعوت ورکوو؟ په دې څوک نه پوهيږي چې د رمضان المبارک روژې فرض دي؟ آيا مونږ د روژو نيولو دعوت ورکوو؟ څوک نه پوهيږي چې د قرآنِ پاک تلاوت کول د نيکئ کار دے؟ آيا مونږ د قرآنِ پاک د تلاوت کولو دعوت ورکوو؟ څوک نه پوهيږي چې د سود لين دين کول، سندرې اوريدل، فلمونه ډرامې کتل، بے پردگي وغيره دا هر څه گناه ده؟ آيا مونږ خلق د دې نه منع کوو؟ افسوس! زمونږ زياتره خلق داسې دي کوم چې دا کارونه نه کوي (يعني د ډيرو څيزونو نه د خبريدو باوجود هم د نيکئ د دعوت عام کولو نه محرومه وي)، مونږ ته چې څومره دين زده دے، دومره نورو ته نه رسوو او د نور عِلمِ دين زده کولو کوشش نه کوو۔

په حديث شريف کښې دي: چا د حضورِ انور، د مکې مدينې د تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پوښتنه اوکړه: بهترين بنده څوک دے؟ اوئې فرمائيل: د الله پاک نه ويريدونکے، صِله رحمئ (يعني د خپلوانو سره ښه سلوک) کوونکے، ښه خبرې ويونکے او د بدئ نه منع کوونکے۔ [2] امام حَسَنِ بَصرِي رَحۡمَةُ اللہِ عَلَیۡه فرمائې: څوک چې د ښه خبرو کولو حکم اوکړي، د بدئ نه منع کړي، هغه د الله پاک هم خليفه دے، د هغه د رسول صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم او د هغه د کتاب (يعني د قرآنِ کريم) هم

1...بخاری، کتاب احادیث الانبیاء، صفحه:888، حدیث:3461۔

2...شُعب الایمان، باب فی صلة الارحام، جلد:6، صفحه:220، حدیث:7950۔

خليفه دے۔ [1]

## د نيکۍ د دعوت پرېښودو نقصانونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! لکه څنګه چې د نيکۍ دعوت ورکول بهترين عبادت دے، داسې دا ديني کار پرېښودل هم بدترين جُرم دے۔ په روايت کښې دي: که چرې مسلمانانو تبليغ پرېښودو نو په هغوئي به ظالِم بادشاه مُسَلَّط شي او د هغوئي دعاګانې به نه قبليږي۔ [2]

## د نيکۍ دعوت نه ورکول هلاکت کښې غورځوي

د صحابئ رسول حضرت نعمان بن بشير رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روايت دے: د رسولانو سالار، د نبيانو سردار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د الله پاک په حدونو کښې سستۍ کوونکے او په دې کښې د اخته کيدونکي مثال د هغه خلقو په شان دے چا چې په کشتۍ کښې قرعه اندازي (يعني خسنړے) اوکړو، د بعضې په برخه کښې ښکته والا حِصَّه راغله او د بعضې په برخه کښې بره والا، بس ښکته والوؤ ته به د اوبو د پاره د بره والوو خواه له تلل وو نو هغوئي دا زحمت اوګڼړلو او په يو تَبَرګي ئې د کشتۍ لاندې حصه کښې سورے کول شروع کړو، بره والا د هغوئي خوا له راغلل او اوئې وئيل: په تاسو څه اوشو (يعني په کشتۍ کښې سورے ولې کوئ)؟ اوئې وئيل: تاسو ته به زمونږ په وجه تکليف رسيدو او د اوبو نه بغير ګزاره نه کيږي۔ که چرې اوس هغوئي د دغه سورې

1...تفسیر روح المعانی، پارہ:4، سورۂ اٰل عمران، تحت الآیۃ:104، جلد:4، صفحہ:326۔

2...تفسیر روح المعانی، پارہ:4، سورۂ اٰل عمران، تحت الآیۃ:104، جلد:4، صفحہ:326ملتقطاً۔

کوونکو لاس اونيولو نو هغوئي ئې بچ کړه او پخپله هم بچ شو او که چرې هغوئي ئې پريږدې نو هغوئي به هم هلاک کړي او خپل ځانونه به هم هلاک کړي۔ [1]

په مرآة المناجيح کښې دي: په دې حديث شريف کښې د يو مثال په ذريعه د بدئ نه د منع کولو او د نيکئ حکم کولو اهميت واضحه کړے شوے دے او وئيلے شوي دي چې که چرې د دې ګنړلو سره د نيکئ دعوت ورکول او د بدئ نه د منع کولو فريضه پريښودے شي چې بدئ کوونکي ته به پخپله نقصان رسي، زمونږ پکښې څه نقصان دے نو دا سوچ غلط دے، ځکه چې د هغه د ګناه اثرات ټوله معاشره په خپله ولقه کښې راولي، لکه څنګه چې کشتئ والا يواځې نه ډوبيږي، بلکه هغه ټول خلق ډوبيږي کوم چې په کشتئ کښې سواره دي، دغه شان د بدئ کوونکو دغه يو څو ګسانو جرم په ټوله معاشره کښې د ناسور جوړيدو سره خوريږي۔ [2]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا ده د زوال وجه--!! کوم قومونه چې د نيکئ دعوت ورکول او د بدئ نه منع کول پريږدي نو د هغوئي عروج په کمي کښې، د هغوئي ترقي په تنزلئ کښې او کاميابئ په ناکامو کښې بدليدل شروع شي، ځکه مونږ ټولو له پکار دي چې مونږ د خپل طاقت او منصب مطابق د نيکئ دعوت ورکړو او د بدئ نه منع کړو۔

جو نیکی کی دعوت کی دھومیں مچائے | میں دیتا ہوں اس کو دعائے مدینہ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

1...بخاری، کتاب الشهادات، باب القرعة في المشکلات، صفحه:692، حديث:2686۔

2...مرآة المناجيح، جلد:6، صفحه:545۔

## (4): په اللّٰه پاک باندې پوخ ايمان

د اُمَّتِ مُسلِمه څلورم اعلىٰ صفت رَبِّ کائنات دا ارشاد اوفرمائيلو:

| | |
|---|---|
| وَ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِؕ (پاره:4، سورۂ آلِ عمران:110) | ترجمۂ کنزُ الایمان: او په اللّٰه ايمان ساتې۔ |

دا صفت اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! هر مسلمان ته حاصل دے، مونږ ټول په اللّٰه پاک باندې ايمان ساتو، رَبِّ کائنات خپل خدائے منو، صِرف د هغه عبادت کوو، صِرف هغه ته ښکته کيږو او سجده کوو۔

خو دلته د غور يوه خبره ده! هغه دا چې آيا مونږ د دې ايمان تقاضې پوره کوو؟

## د ايمان حقيقت څه دے؟

يو ځل د حضرت ابراهيم خوّاص رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه چا پوښتنه اوکړه: د ايمان حقيقت څه دے؟ اوئې فرمائيل:د تَوَکُّل حفاظت کول د ايمان حقيقت دے۔ (1)

يعني چې په هر څنګه حال کښې بنده په اللّٰه پاک باندې باور اوساتي، په يو وخت کښې هم دا باور کمزوري کيدو ته پرې نږدي، د تَوَکُّل داسې حفاظت کول، د ايمان حقيقت دے۔

لږ مونږ غور اوکړو!چې آيا مونږ تَوَکُّل خپلوو؟ آيا مونږ په خپل رَبِّ کريم باور ساتو؟ آه! افسوس! مادِيَّت پرستي عامه ده، نن سبا بعضې نادانه مسلمانان هم د دنيا په خوندونو کښې مست دي، يقين کمزورے دے، په رزق پسې د منډو وهلو سره رازق (يعني رزق ورکوونکے اللّٰه کريم) هيروي، د وسيلو لټولو سره مُسَبِّبُ الْاَسْبَاب (يعني وسيلې

1...کشف المحجوب، صفحه:422۔

جوړوونڪے الله کريم) هيروي-

چې انسان په دکان کښې ناست وي، اذان اوشي نو د لسو منټو د پاره دکان بندول پرې ګران وي، ولې؟ رِزق دکان ورکوي که رَبِّ کائنات ئې عطا کوي؟ خلق دروغ نه پرېږدي چې دروغ نه وائي نو دکان به ئې څنګ چليږي؟ د سود لين دين نه پرېږدي چې سود پرېږدي نو مال به ئې ڪم شي، د عِلمِ دين طرفته ته نه راغِب کيږي، د قرآنِ کريم لوستلو او زده کولو د پاره ورسره وخت نه وي، په مدني قافلو کښې د سفر کولو او د سُنَّتو زده کولو د پاره ورسره وخت نه وي چې دوئي که چرې د دين په لاره کښې سفر کوي نو کور والا به ئې څه کوي؟ بچي به ئې څه کوي؟ ګېډه وږه به څنګه کوي؟ د کوم ځائے نه به ئې خوري؟ غرض په الله پاک خو ايمان ساتو خو يقين مو کمزورے دے، ګڼړ شمير خلق داسې دي څوک چې صِرف په ظاهري وسيلو باور ساتي- حالانڪه د ايمان تقاضا خو دا ده چې مونږ د ظاهري وسيلو نه زيات د رَبِّ کائنات په قدرتونو باور اوساتو- امامِ غزالي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: د الله پاک په قُدرتِ کامِله باندې ايمان راوړل او د ظاهري وسيلو نه علاوه په پټو وسيلو ايمان ساتل تَوَکُّل دے- (1)

## په الله پاک باور ساتئ! که چرې مؤمنان ئيئ---!

الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

وَعَلَى اللّٰهِ فَتَوَكَّلُوۡۤا اِنۡ كُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ ﴿۲۳﴾

(پاره: 6، سورهٔ مائده: 23)

ترجمهٔ کنزُ العرفان: او که چرې تاسو ايمان والا ئيئ نو په الله باور ساتئ-

---

1...احياء العلوم، جلد: 4، صفحه: 791 بتغير-

## د مرغو په شان زړونه

د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: يَدْخُلُ الْجَنَّةَ اَقْوَامٌ اَفْـِٕدَتُهُمْ مِثْلُ اَفْـِٕدَةِ الطَّيْرِ جنّت ته به داسې قومونه ځي د چا زړونه چې د مرغو د زړونو په شان وي۔ (1)

د قرآنِ پاک مشهور مفسِر، حکيم الاُمَّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: د مرغو په زړونو کښې په الله پاک باندې تَوَکُّل د اعلیٰ درجې وي او د هغوئي زړونه د بُغض او کينې نه پاک وي، په کوم انسان کښې چې دا صفتونه پيدا شي هغه فرښته صفت جوړ شي۔ (2)

*رِزق نہ رکھیں ساتھ میں پنچھی اور دَرویش | جن کا رَبّ پر آسرا اُن کو رِزق ہمیش*

**وضاحت:** مرغۍ د ځان سره رِزق نه ساتي، هم داسې د لرې پرتو علاقو سفر کوي، داسې اوليائے کرام هم د رِزق بندوبست ته پام نه کوي، ولې؟ ځکه چې څوک په الله پاک باور ساتي، د هغوئي د رِزق انتظام (بخپله) کيږي۔

**اے عاشقانِ رَسُول!** مادِيَّت پرستي، يعني د تَوَکُّل کمے او په ظاهري وسيلو باندې زيات باور ساتل، دا هم د زوال يوه وجه ده، د دې په وجه په زړه کښې د دنيا محبت زياتيږي، حِرص او لالچ زياتيږي، په زړه کښې د حَسَد اور بليږي او انسان بس صرف د دنيا شي۔ څومره قومونه دي کوم چې د دنيا سره د محبت په وجه تباه او برباد شول۔ الله پاک دې مونږ

---

1...مسلم، کتاب الجنة والصفة، باب يدخل الجنة اقوام، صفحه:1091، حديث:2840۔

2...مرآة المناجيح، جلد:7، صفحه:368۔

د تباهۍ نه بچ کړي، په خپل کرم دې مونږ ګنهګاران د نعمت د زوال نه محفوظ کړي۔

## د بيان خلاصه

خلاصه دا ده چې د اُمَّتِ مسلمه 4 بنيادي ذمه وارۍ دا دي چې: (1): د خَيرِ اُمَّت کيدو عملي ثبوت ورکول (2): د نيکۍ دعوت ورکول (3): د بدۍ نه منع کول (4): او په الله پاک باندې کامِل يقين ساتل۔ افسوس! نن مونږ په څلور وارو ذمه وارو کښې ناکامه په نظر راځو، کردار زمونږ خراب شوے دے، د نيکۍ دعوت مونږ نه ورکوو، د بدۍ نه مونږ نه منع کوو او په مادِيَّت پرستۍ او د دنيا په رنګينو کښې داسې اخته يو چې ايمان پخپله کمزورے کيږي۔ غور اوکړئ! کوم قومونه چې خپلې ذمه وارۍ پوره نکړي، هغوئي زوال او کمي ته ځومره نزدې دي؟ اوس هم وخت دے چې مونږ سم شو، رَبِّ کائنات چې مونږ له کوم مهلت راکړے دے، د پاکستان په شکل کښې ئې د آزادۍ نعمت عطا کړے دے، د هغې قدر اوکړو، د دې نعمت شکر ادا کړو، د نا شکرۍ نه بچ شو، د ګناهونو نه هر وخت لرې اوسو، خپل اخلاق او کردار سم کړو، د نيکۍ دعوت عام کړو، د بدۍ نه منع کړو، په الله پاک باندې د کامِل يقين ساتلو سره د هغه په لاره کښې د نيکۍ دعوت عام کول شروع کړو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! په دنيا کښې به هم کاميابي زمونږ قدمونه ښکل کړي، عروج، ترقي، عزت او شوکت به عطا شي او که چرې الله پاک اوغوښتل نو قبر او آخرت به هم سم شي۔ الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راکړي۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مدني قافله

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي هم

جشنِ آزادۍ لمانځي خو د دعوتِ اسلامي انداز ځانګړے دے، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د جشنِ آزادۍ په موقع مدني قافلې سفر کوي، په زرګونو عاشقانِ رسول په مدني قافلو کښې د سفر کولو سره ښار په ښار، کلي په کلي د ګرځيدو سره د نيکۍ دعوت ورکوي او د بدۍ نه منع کوي، پخپله هم لمونځونه کوي، نورو ته هم د لمونځونو دعوت ورکوي او جُمات ته ئې د راوستو کوشش کوي، د قرآنِ کريم، د سُنّتو فيضان عام کوي، د عشقِ رسول شمعې په زړونو کښې د روښانه کولو کوشش کولے شي، داسې عاشقانِ رسول د دين زده کولو سره، نورو ته ښائي او د حقيقي غُلامانِ مصطفٰے جوړيدو کوشش کوي او نور هم د دې لارې مسافر جوړوي۔

اے عاشقانِ رَسُول! په 14 اګست سرکاري چهټي وي، روان کال خو هسې هم 14 اګست د اتوار په ورځ دے، تاسو هم ذهن جوړ کړئ، همت اوکړئ، چې په **12، 13، 14 اګست** 2022 (د جُمعې، خالي، اتوار) **د** 3 **ورځو مدني قافله کښې د سفر کولو** سعادت نصيب شي، د حقيقي غلامِ رسول جوړيدو د پاره، د آزادۍ په تحريک کښې د شهيد شوو عاشقانِ رسول د ايصالِ ثواب د پاره د عاشقانِ رسول سره په مدني قافلو کښې سفر اوکړئ او د آزادۍ د نعمت شکر ادا کړئ۔

## د زړه حالت ئې بدل شو

د فيصل آباد (پنجاب، پاکستان) د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده: د دعوت اسلامي ديني ماحول ته د راتلو نه مخکښې د خراب کردار مالک وو، دروغ، غيبت، چغلي، د سترګو د بد نظر په شان ګناهونه زما د معمول حصه وه، ما مارشل آرټ زده کړے وو د

کوم د طاقت په وجه چې **به ما هیڅ بې هیڅه د خلقو سره جګړه کوله، هر نوې فیشن خپلول زما شوق وو، آه! د لمونځونو نه دومره لرې ووم چې ماته دا هم معلومه نه وه چې په کوم لمونځ کښې څومره رکعتونه وي**- آخر د رحمت دروازه پرانستے شوه او زما قسمت په دې ښه شو چې د دعوتِ اسلامي سره تعلق لرونکي یو اسلامي ورور ماته په مدني قافله کښې د سفر کولو دعوت راکړو، د دوست خبره مې غوږځولے نه شوه او د دریو ورځو د مدني قافلې مسافر جوړ شوم- مدني قافله کښې د عاشقانِ رسول د صحبت په برکت ماته د ژوند مقصد معلوم شو، په خپلو ګناهونو اوشرمیدم، زما د سترګو نه د غفلت پټۍ لرې شوه، د زړه حالت مې بدل شو، هم داسې ما د ګناهونو نه توبه کړه او د دعوتِ اسلامي دیني ماحول کښې مې ژوند تیرول شروع کړو-

| | |
|---|---|
| دل کی کالک دُھلے مرضِ عصیاں ٹَلے | آؤ سب چل پڑیں قافلے میں چلو |
| کر سفر آئیں گے، تو سُدھر جائیں گے | اب نہ سستی کریں، قافلے میں چلو[1] |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## مدني قاعده موبائل ایپلي کیشن

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډیپارټمنټ یو موبائل ایپلي کیشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: ***Madani Qaidah*** (مدني قاعده)- د دې ایپلي کیشن په ذریعه د مدني قاعدې لوستو سره، د دې مشق کیدے شي او بنیادي تجوید زده کیدے شي- په خپل سمارټ فُون کښې دا ایپلي

1...وسائل بخشش، صفحه:672669ـ

کیشن انستمال کړئ! پخپله ترې هم ګټه ترلاسه کړئ او نورو ته هم د دې ترغیب ورکړئ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب		صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** بیان د ختمولو په لور بوځم او د سُنّت د فضیلت او د ژوند د ځینو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم۔ د رِسالت تاجدار، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغوئي زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغوئي به په جنّت کښې زما سره وي۔ [1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب		صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مسواک کولو سُنَّت او آداب

**د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامین: (1):** دوه رکعته (لمونځ) د مسواک سره ادا کول بغير د مسواک نه د 70 رکعتونو نه افضل دي۔ [2] **(2):** د مسواک استعمال د ځان د پاره لازمي کړئ ځکه چې دا د خُلې د صفائيئ او د الله پاک د رضا وجه ده۔ [3]

---

1...مشکوٰۃ، کتابُ:الْاِیمان، باب:الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حدیث:175۔
2...اَلتَّرغِیْب وَالتَّرہِیب، کتاب: الطهارة، الترغيب فی السواک، صفحه:86، حدیث:18۔
3...مسند امام احمد، جلد:2، صفحه:438، حدیث:5869۔

اے عاشقانِ رَسُول! ❀ حُضور نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هره شپه مسواک کولو، هر ځل د اوده کيدلو په وخت هم او د بيداريدلو په وخت هم ❀ بغير د ښه نيت نه د مسواک کولو سره خو به طِبي فائدې خو حاصلې شي خو ثواب به نه ميلاويږي، مثلاً که د اوداسه د پاره مسواک کول وي نو دا درې نيتونه اوکړئ: د الله پاک د رضا، د سُنَّت ادا کولو او د ذِکر او درود د پاره د خُلې پاکولو په غرض مسواک کووم ❀ مشائخِ کرام فرمائي: کوم کَس چې د مسواک عادت لري په ځنکدن کښې به ورته کلمه وئيل نصيب کيږي ❀ د حضرت عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې په مسواک کښې 10 خوبيانې دي: خُله صفا کوي، اورئ مضبوطوي، نظر تيزوي، بلغم لرې کوي، د خُلې سخا بوئي ختموي، د سُنَّت موافق دے، د مسواک کولو سره فرښتې خوشحاليږي، د مسواک کولو سره رَبّ رضا کيږي، مسواک نيکۍ زياتوي او معده صحيح کوي ❀ مسواک په ښي لاس کښې داسې واخلئ چې قچۍ ګوته د دې نه لاندې او د مينځ درې ګوتې بره او غټه ګوته په سر وي ❀ مسواک چې کله د استعمال قابل نه وي نو غورځوئ ئې مه چې دا د سُنَّت ادا کولو آله ده، په احتياط سره ئې په يو ځائے کښې کيږدئ يا ئې ښخ کړئ يا ئې د کانړې وغيره وزن سره اوتړئ او سمندر (يا سيند وغيره) کښې ئې ډوب کړئ۔ [1]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبۃ المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه 16 حصې او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه **مولانا ابو بلال محمد الياس عطار**

---

1...550 سنتيں اور آداب، صفحه:5047۔

**قادري رضوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 مخونو رساله **550 سنت او آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنت زده کولو يوه ذريعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

سنتیں سیکھنے تین دِن کے لئے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب     صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد